السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# خبر راکړئ چي که ستاسو څخه د یو چا د دروازې په خوله کې یو نهر وي چي هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وایئ چې په هغه کي به څه خیرى پاتې شي؟

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دى هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي يې چې فرمايل يې: «خبر راکړئ چي که ستاسو څخه د یو چا د دروازې په خوله کې یو نهر وي چي هغه پکې د ورځې پنځه ځلي غسل کوي، نو څه وایئ چې په هغه کي به څه خیرى پاتې شي؟» هغوى وويل: نه هيڅ خيرى به يې پاتې نه شي، ويې فرمايل: همدا د پنځه وخته لمونځونو مثال دى، چې الله جل جلاله پرې ګناهونه پاکوي.»
[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه د کوچنیو ګناهونو په پاکولو کې د یو نهر په شان بللي دي چې د یو چا د کور په دروازه کې وي او هره ورځ پکې پنځه وخته غسل کوي، نو هیڅ خیرى به پکې پاتې نه شي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4968

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee